هفته واره رساله

د امیرِ اهلِسُنَّت تقریباً 22 کاله مخکښینے بیان

# د وسیلې برکتونه



عمل چې څومره ګران وي
هغه هومره وزن دار وي

د غوښې پوټي به کباب کیدلو

د ګناهونو نه د بچ کیدو وسیله

دوه جنتونه ورعطا کړے شول


شیخِ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، باني دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال

**محمد الیاس عطار قادري رضوي** دامت برکاتهم العالیه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د وسیلې برکتونه

دُعائے عطّار: یا اللّٰه پاکه! څوک چې دا رساله " د وسیلې برکتونه " ولولي یا واوري هغهٔ ته پهٔ دُنیا او پهٔ اخرت کښې د نیکو بهترینه بدله ورعطا کړې او جَنَّتُ الفردوس ته یې بے حسابه داخِل کړې او د خپل خوږ حبیب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي یې جوړ کړې-

اٰمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د اخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کله چې دوه دوستان د یو بل سره میلاؤیږي او مصافحه کوي او پهٔ نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُودِ پاک لولي نو د هغوئي دواړو د جُدا کیدو نه مخکښې د هغوئي مخکښیني وروستني ګناهونه بخښلے کیږي- (شعب الایمان، 471/6، حدیث:8944)

## د وسیلې برکتونه

پهٔ تیره زمانه کښې دري کسان پهٔ سفر باندې روان شول، د سفر پهٔ

وخت د شپې تیرولو د پاره یو غار ته داخِل شول او اودهٔ شول- پهٔ دې کښې د غر نه یو غټ ګټ راونړیدو د هغې پهٔ وجه د غار خُله بنده شوه- بیا هغوئي د هٔغه مصیبت نه د نجات حاصلولو د پاره دا فیصله وکړه چې پهٔ مونږ کښې دې هر ګس د خپل څهٔ نیک عمل وسیله وړاندې کړي او د الله پاک پهٔ دربار کښې دې دُعا اوکړي، نو پهٔ هغوئي کښې یو د الله پاک پهٔ دربار کښې عرض اوکړو: اے الله! تا ته معلومه ده چې زما مور او پلار بوډاګان شوي وو او ما به د هٔغه وخته پورې خپلو بچو له پیٔ نهٔ ورکول تر څو پورې چې به مې خپل مور او پلار ته د هغوئي د حصې پیٔ نهٔ وو ورکړي- اے پروردګاره! تا ته معلومه ده چې یو ځل زهٔ پهٔ خپلو څاروو څَرولو لرې لاړم او کله چې د شپې راورسیدم نو مور او پلار مې اودهٔ شوي وو، ما د هغوئي د حصې پیٔ راواخستل او سر ته ورته ودریدم د دې پورې چې ډیر وخت پس د هغوئي سترګې وغړیدلې نو ما هغوئي ته پیٔ وړاندې کړل او بیا مې پهٔ خپل بال بچ باندې وڅښل او پخپله مې هم وڅښل- اے الله! که زما دا عمل ستا د رضا او خوشحالئ د پاره وو نو د دې پهٔ برکت دا ګټ د غار د خُلې نه لرې کړې او زمونږ دا مصیبت لرې کړې- د دې دُعا پهٔ برکت ګټ د غار د خُلې نه لږ شان اخوا شو خو د وتلو لاره جوړه نهٔ شوه-

دویم ګس عرض اوکړو: اے اللّٰه! ما د خپل ترۀ لور سره محبت کولو او هغه زما پۀ خلقو کښې د ټولو نه زیاته خوښه وه- ما د هغې سره د بدۍ اِراده اوکړه خو هغه زما پۀ قابو کښې رانغله- یو ځل چې کله قحط شو نو هغه د قحط ښکار شوه او د مدد حاصلولو د پاره زما خوا له راغله، ما پۀ دې شرط باندې هغې له 120 دیناره (یعنې د سرو زرو اشرفۍ) ورکړې چې هغه به خپل ځان ما ته حواله کوي، هغه ډیره مجبوره وه لهذا زما شرط منلو ته تیاره شوه- اخر چې کله زۀ پۀ خپل خواهش پوره کولو باندې قادر شوے ووم نو هغې ما ته ووئیل: اے ورروره! د اللّٰه پاک نه ویریږه او دا مهر د حق نه بغیر مۀ ماتوه- اے پروردګاره! د هغې پۀ دې فریاد کولو زۀ د ګناه نه منع شوم او د سرو زرو اشرفۍ مې هغې له ورکړې- که زما دا عمل ستا د رضا او خوشحالۍ د پاره وو نو تۀ زمونږ نه دا افت لرې کړې نو ګټ لږ شان نور لرې شو خو بیا هم د غار نه بهر وتل ممکن نۀ وو-

بیا دریم ګس د اللّٰه پاک پۀ بارګاه کښې عرض اوکړو: اے اللّٰه! تا ته معلومه ده چې ما یو ځل یو څو کسان پۀ مزدورۍ باندې وساتل او هغوئې ټولو ته مې د هغوئې مزدوري ورکړه خو پۀ هغوئې کښې یو د خپلې مزدورۍ اخستو نه بغیر لاړو- ما د هغۀ مزدوري پۀ کاروبار کښې ولګوله د دې پورې

چې د هغهٔ مال زيات شو- څهٔ موده پس هُغه مزدور زما خوا له راغلو او خپله مزدوري يې وغوښتله- ما هغه ته ووئيل: دا چې تهٔ کومې چيلۍ، غواګانې، اوښان او غلامان وينې دا ټوله ستا مزدوري ده- هغهٔ يو دم ډير حيران شو او وه يې وئيل: اے د الله بنده! زما سره ټوقې مهٔ کوه- ما هغه ته ووئيل: زهٔ ستا سره ټوقې نهٔ کووم، اصلي خبره دا ده چې تهٔ د مزودرۍ اخستو نه بغير تلے وې نو ما ستا مزدوري پهٔ کاروبار کښې ولګوله پهٔ هغې دومره برکت پيدا شو چې دا چيلۍ، اوښان، غواګانې او غلامان وغيره جمع شول او دا ټول ستا د مزدورۍ پيداوار دے- هُغه مزدور ډير خوشحاله شو او ټول مال يې واخستو او لاړو، هغه پهٔ هغې کښې هيڅ پرې نهٔ ښودل- اے الله! که زما دا عمل صرف ستا د رضا د پاره وو نو تهٔ مونږ ته د دې مصيبت نه نجات عطا کړې! نو هُغه کټ د غار د خُلې نه بالکل لرې شو او هُغه درې واړه مسافر بهر ووتل او د خپل منزل طرف ته روان شول- (بخاری، 48/2، حديث:2215 ملخصاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ دې واقعه کښې زمونږ د پاره بے شميره مدني ګلونه دي مثلاً چې کله څهٔ مصيبت راشي نو د ظاهري اسبابو اختيارولو سره سره د دُعا طرف ته هم توجه کول پکار دي خو افسوس چې مونږ پهٔ دې معامله کښې د بے خيالۍ ښکار يو- مونږ چې کله د څهٔ سختې سره مخ شو نو

مونږ د هغې د لرې کولو تدبیرونه جوړوو او د خلقو ښه منت زارې کوو چې زمونږه فلانکۍ مسئله حل کړئ خو د الله پاک طرف ته رجوع نۀ کوو- که پۀ مونږ کښې چا ته نزله، ټوخے یا څۀ پریشانې راپیښه شي نو هغوئي زر دوایانې اِستعمالول شروع کړي په دې د پریشانۍ د حل کولو لار راوباسي خو د الله پاک دربار کښې داسې عرض نۀ کوي چې اے الله! ماته نزله زکام شوے دے، تۀ یـې ټیک کړې، اے الله زۀ ټوخیږم تۀ کرم اوکړې، اے الله! نن زما کار ته ډډې نۀ لګي تۀ یـې ولګوې، اے پروردګاره! نن زۀ ناراستي محسوسوم تۀ یـې رانه لرې کړې، اے الله! زما بلډ پریشر هائي شوے دے تۀ یـې نارمل کړې وغیره وغیره- لږ سوچ اوکړئ! که چرې مونږ د دوایۍ سره سره د دُعا نه هم کار واخلو نو پۀ دې کښې څۀ باک دے؟ خو مونږ د دُعا طرف ته هغه وخت توجه کوو چې کله مونږ ته ډاکټر ووائي چې اوس ستاسو مریض ته د دُعا ضرورت دے یعنې کله چې ډاکټر د دُعا لار راښائي نو بیا مونږ ته معلومه شي چې زمونږ مریض ته د دُعا ضرورت دے، د دې نه مخکښې مونږ د دُعا نه غافله یو- اے کاش چې مونږ هم د مخکښې نه دُعا کوونکي جوړ شو!

ياد ساتئ! که هر څومره خطرناک مرض ولې نهٔ وي د الله پاک پهٔ دربار کښې دُعا ضرور کول پکار دي- الله پاک مونږ ته پهٔ خپله بارګاه کښې د دُعا کولو حکم کړے دے، د الله پاک اِرشاد دے: ﴿ اُدْعُوْنِیْۤ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾ (پ 24، سورۂ المؤمن:60) [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زما نه دُعا وغوارئ زهٔ به ستاسو دُعا قبلووم-

هيڅ يو مرض لاعلاجه نشته لکه څنګه چې پهٔ حديثِ پاک کښې دي: الله پاک چې څومره بيمارياني نازلې کړې دي د هغې دوائي يې هم نازله کړې ده- (بخاری، 16/4، حديث:5678) آؤ دا ضرور دي چې د څينې بيمارو علاج ته ډاکټران رسيدے نهٔ شي او هغوئي لا د اوسه پورې د هغې علاج نهٔ دے موندلے-

ياد ساتئ چې د الله پاک نه زيات نهٔ خو څوک کار جوړوونکے شته او نهٔ بيا د پاره کيدے شي لهذا چې کله هم څهٔ وړوکے يا لوئي مصيبت راپيښ شي اګر که د هغه مصيبت لرې کيدل پهٔ ظاهره ممکن پهٔ نظر نهٔ راځي خو مونږ له دُعا ضرور کول پکار دي- بعضې وخت داسې افتونه د کومو نه چې نجات موندل ممکن نهٔ ښکاري، د دُعا پهٔ برکت د هغې نه ازادي نصيب کيږي لکه چې تاسو د بيان پهٔ شروع کښې واوريدل چې کله درې کسان د

سفر پهٔ وخت د شپې تیرولو د پاره غار ته داخِل شو نو د غر نه یو ګټ راوخوئیدو چې له وجهې یــې د غار خُله بنده شوه او د هٔغه مسافرو د غار نه وتل تقریباً چې ناممکن شول خو هٔغه نیکانو بندګانو د اللہ پاک پهٔ دربار کښې د خپلو نیکو اعمالو وسیله پیش کړه او دُعا یــې اوکړه نو د هغوئي ډېره مشکله مسئله حل شوه۔

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** معلومه شوه چې د دُعا کولو پهٔ وخت د نیک اعمالو وسیله هم وړاندې کیدے شي لهذا داسې نیک عمل کوم چې پهٔ اِخلاص سره شوے وي اګر که پهٔ ظاهره معمولي وي مثلاً چا د اللہ پاک د رضا د پاره ړوند ګس د سړک نه واړولو نو هغه د دې نیک عمل پهٔ وسیلې سره هم دُعا کولے شي۔

## عمل چې څومره ګران وي هم هٔغه همره وزن دار وي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** کوم عمل چې څومره ګران وي پهٔ تله د میزان کښې به هم هٔغه همره وزن دار وي او د هغې ثواب به هم هٔغه همره زیات میلاؤیږي۔ پهٔ دې باندې داسې څان پوهه کړئ: مثلاً یو ګس بالکل وزګار وو، پهٔ سړک باندې ګاډي هم نهٔ وو، هغه پهٔ سړک باندې اوریدو چې ناڅاپي یــې یو ړوند ګس ولیدو هغه د هٔغه ړوند لاس ونیولو، بڅپله هم پهٔ

سړک واوختو او هغه یې هم د ځان سره واوړولو، یقیناً چې هغهٔ ته به د نیک عمل ثواب میلاؤیږي خو دا عمل دومره ګران نهٔ وو ځکه چې د دهٔ سره وخت هم وو، پهٔ سړک باندې څهٔ خاص ګاډي هم نهٔ وو او دے پخپله هم پهٔ سړک باندې اوختو۔

د دې اُلټا یو ګس د سړک پهٔ غاړه پهٔ خپل دُکان کښې ناست دے، پهٔ هغهٔ باندې د ګاهک رش وو، کوم مال چې هغه خرڅولو هُغه شان مال پهٔ نورو دکانونو کښې هم خرڅولے کیدو لهذا د ګاهک سمبالول هم ضروري وو ځکه چې پهٔ لږ شان غفلت کښې ګاهک یو دکان پریږدي او بل دُکان ته ځي خو پهٔ دې کښې د هُغه دکاندار نظر د سړک پهٔ غاړه پهٔ یو ړوند ګس پریوتو کوم چې پهٔ سړک د اوختو پهٔ انتظار کښې ولاړ وو، ګاډي ډیر پهٔ تیزۍ سره د هغهٔ پهٔ خوا تیریدل او څوک هم هغه پهٔ سړک د اړولو والا نهٔ وو، هُغه دکاندار نهٔ خپل ګاهک ته وکتل او نهٔ یې د کاروبار خیال اوکړو بس زر یې خپل دکان پریښودو او د هُغه ړوند ګس خوا له لاړو، هغهٔ ته یې سلام اوکړو او بیا یې هغه د لاس نه ونیولو او د ګاډو د ورو کیدو اِنتظار یې اوکړو او بیا چې څنګه هغهٔ ته موقع میلاؤ شوه هغهٔ هُغه ړوند ګس پهٔ سړک باندې واړولو بیا چې

کله واپس خپل دکان ته راغلو نو ګاهک ترینه تلے وو چې له وجهې یې هغه پۀ زړۀ کښې غمژن شو-

یقیناً چې پۀ داسې حالت کښې به د وړومبي کس پۀ مقابله کښې ډېر ثواب میلاؤیږي ځکه چې پۀ وړومبي حالت کښې پۀ سړک اوختونکے ګس د سختې سره نۀ وو مخ شوے خو پۀ دویم حالت کښې دکاندار د سختې سره د مخ کیدو سره سره د ګاهک د تللو سره سره مالي قرباني هم ورکړه- وګورئ چې پۀ دواړو حالتونو کښې پۀ ظاهره عمل یو دے خو د دواړو انداز، سخته او پۀ کوشش کښې فرق دے-

دغه شان چې کله اودس کول ګران وي نو هغه وخت چې اودس اوکړے شي نو ډیر ثواب به میلاؤیږي مثلاً پۀ یو ځائے کښې ډیره یخني ده، پۀ جومات کښې د اوبو ګرمولو د پاره د ګیزر انتظام هم نشته او اوبۀ هم ښې یخې دي نو پۀ داسې حالت کښې د جومات انتظامیې ته د ردو بدو وئیلو نه بغیر پۀ صبر کولو او د یخنی نه پۀ رڼچیدو رڼچیدو پۀ یخو اوبو اودس اوکړے شو دۀ ته به د هغه ګس پۀ مقابله کښې ډیر ثواب میلاؤیږي کوم چې پۀ ګرمو اوبو اودس کړے وي ځکه چې پۀ یخنۍ کښې په یخو اوبو باندې اودس کول ګران کار دے-

داسې چې د چا د پاره قرآنِ پاک لوستل ګران دي د هغهٔ به د هُغه کَس پهٔ مقابله کښې ډېر ثواب کيږي د چا د پاره چې قرآنِ پاک لوستل اسان دي-

## د مور او پلار زړهٔ خوشحالول

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** تاسو چې د بيان پهٔ شروع کښې کومه واقعه ولوستله د هغې نه دا هم معلومه شوه چې د مور او پلار زړهٔ خوشحالول د الله پاک پهٔ نزد خوښ عمل دے- وګورئ چې پهٔ غار کښې پهٔ داخل شوو دريو کسانو کښې يو د مور او پلار سره ډېره محبت کوونکے وو چې پهٔ خپل بال بچ به يې د هُغه وخته پورې پئ نهٔ څښل د څو پورې چې به يې پهٔ خپل مور او پلار باندې نهٔ وو څښلي، بيا چې يې کله يوه شپه مور او پلار اودهٔ شول نو د هغوئي سر ته د پئيو پهٔ لاس ولاړ وو او پهٔ خپلو بچو باندې يې هم وه نهٔ څښل، کله چې يې مور او پلار راويښ شول نو وړومبے يې هغوئي ته پئ ورانډې کړل او بيا يې پهٔ خپل بال بچ باندې وڅښل-

د دې اُلټا پهٔ اوسني دې جديد دور کښې مور او پلار له ډېره اهميت ورکړے کيږي خاص طور د وادهٔ نه پس د بال بچ پهٔ موجودګۍ کښې د مور او پلار اهميت ډېره باقي پاتې کيږي؟ ټول د دې نه خبر دي- ياد ساتئ چې که مور او پلار د تکليف سبب جوړيږي نو بيا هم د مور او پلار حقونه نهٔ

ختمېږي لهذا اولاد ته به په هر حالت کښې د صبر نه کار اخستل پکار وي- د مور او پلار د حقونو په باره کښې يو روايت ولولئ:

## د غوښې پوټے به کباب کيدلو

يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په دربارِ رسالت کښې عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! په يوه لاره کښې داسې ګرم کاڼي وو چې که چرې په هغې باندې د غوښې پوټے ايښودے شوے وے نو کباب کيدلو به، ما د شپږ ميلو پورې خپله مور په خپلو اوګو يوړله، نو آيا زۀ د مور د حقونو نه فارغ شوم؟ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: "ستا په پيدا کيدو کښې چې د درد څومره جټکې هغې تيرې کړې دي کيدے شي چې دا په هغو کښې د يوې جټکې بدله وي-" (مجمع الزوائد، 254/8، حديث:13394)

د دې روايت نه معلومه شوه چې اولاد د مور او پلار د حقونو نه خلاصے نشي موندلے که هغه د هغوئي هر څومره خِدمت ولې اونکړي ځکه د مور او پلار د حقونو خيال ساتل ډير ضروري دي- افسوس چې نن سبا په معاشره کښې د مور او پلار سره ډير ناروا سلوک کولے شي او بعضې خلق د مور او پلار بالکل خيال نۀ ساتي-

بعضې وخت د اولاد د مور او پلار نه دا شکایت وي چې هغوئي د هغۀ پۀ داسې معاملو کښې هم مداخلت کوي پۀ کومو کښې چې هغوئي له مداخلت نۀ وي کول پکار نو پۀ دې باره کښې عرض دے چې هغه مور او پلار دي لهذا پۀ هر حالت کښې د هغوئي ادب او اِحترام ضروري دے- وګورئ چې مور او پلار زمونږ ډيرې خطاګانې زغملې وي مثلاً مونږ پۀ ماشومتوب کښې هغوئي تنګ کړي وو خو بيا هم هغوئي پۀ مونږه خوراک ښنباک کولو، مونږ به چې کله د شپې کور ته ناوخته راتللو نو هغوئي خوارانو به خپل خوب قربانولو او زمونږ پۀ انتظار کښې به ويښ ناست وو، که زمونږ به تبه شوه نو هغوئي به ټوله ټوله شپه زمونږ خدمت کولو خو مونږ له وادۀ کولو سره پته نشته چې هغوي داسې کومه غلطي اوکړي چې د وادۀ نه پس مونږ هغوئي ته اهميت ورکول پريږدو- ياد ساتئ چې نۀ خو د بال بچ پۀ وجه پۀ مور او پلار باندې ظلم کول پکار او نۀ د مور او پلار پۀ وجه پۀ خپل بال بچ باندې ظلم کول پکاردي، د دواړو د حقونو خيال ساتل ضروري دي-

## د قبول شوي حج ثواب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د مور او پلار د تنګولو پۀ ځائے د هغوئي ادب او اِحترام کوئ، د هغوئي سره پوره همدردي کوئ او پۀ مينه او محبت د

هغوئي زيارت کوئ- د مور او پلار طرف ته د رحمت په نظر د کتو به څۀ وائې!
د اللّٰه پاک د اخري نبي، مکي مدني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کله
چې اولاد د خپل مور او پلار طرف ته د رحمت نظر اوکړي نو اللّٰه پاک د هغۀ
د پاره د هر نظر په بدل د حج مَبرور (يعني د مقبول حج) ثواب ليکي- صحابۀ
کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم عرض اوکړو: اګر که په ورځ کښې 100 کرته نظر کوي؟ وه
يې فرمائيل: نَعَمْ! اَللّٰهُ اَكْبَرُوَاَطْيَبُ يعني آؤ! اللّٰه د ټولو نه لوئي دے او اَطيب
(يعني د ټولو نه زيات پاک) دے- (شعب الايمان، 186/6، حديث:7859 ملتقطاً)

خومره خوش قِسمته دي هُغه خلق د چا مور او پلار چې ژوندي دي!
داسې خلقو له پکار دي چې د خپل مور او پلار خدمت اوکړي، د هغوئي
سره د نرمۍ سلوک اوکړي، د خبرو کولو په وخت ورسره سترګې نۀ ميلاوهي،
هغوئي چې په راتللو ويني نو د ادب نه ودريږي، د هغوئي سره ضد نۀ کوي،
هغوئي چې خبره کوي نو د هغوئي خبره نۀ کټ کوي، د هغوئي د رټلو او هغوئي
ته د ستغو سپورو وئيلو نه ډډه اوکړي- ياد ساتئ! اګر که مور او پلار بے
نمانځه وي نو بيا به هم د هغوئي عزت کولے شي ځکه چې نمونځونه نۀ
کول د هغوئي خپل عمل دے البته د هغوئي د ګناهونو نه دې ضرور نفرت
اوکړے شي-

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** مور او پلار د اولاد نه په عمر کښې ډېر زيات مشران وي لهٰذا که چرې اولاد هغوئي نيغ په نيغه د پوهه کولو کوشش اوکړي نو کيدے شي چې هغوئي پرې پوهه نشي ځکه اولاد له پکار دي چې د هغوئي ادب او اِحترام کوي، د هغوئي د اِصلاح د پاره د هغوئي تړون د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره پيدا کړئ او د سُنَّتو نه ډکو بيانونو د اوريدو ترغيب ورکړئ اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د هغوئي د اِصلاح ذريعه به جوړه شي او په ډېر لږ وخت کښې به د هغوئي په ژوند کښې مدني انقلاب راشي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو چې د بيان په شروع کښې کومه واقعه ولوستله په هغې کښې بيان کړے شو چې په غار کښې داخل شوو دريو واړو کسانو د الله پاک په دربار کښې د خپلو نيک اعمالو وسيله پيش کړه د کومې په برکت چې د غار خُله پرانستے شوه او د هغوئي د قيد نه ازادي نصيب شوه نو د دې دا مطلب نهٔ دے چې د الله پاک په دربار کښې صرف د نيک اعمالو وسيله پيش کيدے شي بلکې ياد ساتئ چې د نيک اعمال سره سره د نيکو هستيانو وسيله هم پيش کيدے شي-

دا څنګه کیدے شي چې مونږ د خپلو نیکو وسیله خو پیش کړو خو د نیکانو خلقو وسیله پیش نکړے شو حالانکې زمونږ د نیکو د وسیلې په مقابله کښې د نیکانو خلقو وسیله ډیره مضبوطه ده- چرته زمونږ نیکۍ او چرته د الله پاک نیک بندګان مثلاً چرته د انبیائے کرامو علَیهِمُ السَّلام عظمتونه؟ او بیا د سَیِّدُ الانبیا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شان د عظمت به څهٔ وائي! د الله پاک نه پس د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان او عظمت د ټولو نه زیات دے-

## د فقیرانو مهاجرو وسیله

د الله پاک پهٔ دربار کښې د نیک اعمالو سره سره د نیکانو خلقو وسیله پیش کول ثابت دي لکه څنګه چې د حضرت سَیِّدُنا اُمیه بن خالد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د فقیرانو مهاجرو پهٔ وسیله فتح طلب کوله- (شرح السنة، 303/7، حدیث:3957)

## د لمَن تار

د نیکانو هستیانو سره سره که د هغوئي سره د نسبت لرونکو څیزونو وسیله هم پیش کړے شي او دُعا اوکړے شي نو الله پاک یـې قبلوي پهٔ " اَخبارُ الاَخیار" شریف کښې دي: سخته سوکړه شوه، د خلقو د ډیرو دعاګانو باوجود باران وه نهٔ شو- حضرت سَیِّدُنا نِظامُ الدِّین ابو المُؤَیَّد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د خپلې مور رَحْمَۃُ

رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهَا د جامو يو تار په لاس کښې راواخستو او عرض يې اوکړو: اے الله! دا د هغې زنانه د لَمَن تار دے په کومې چې چرې هم د نامحرمه نظر نه دے پريوتے، زما مولیٰ! د دې په برکت د رحمت باران اوکړې! لا دُعا ختمه شوې هم نۀ وه چې د رحمت وريځې راخورې شوې او باران شروع شو- (اخبار الاخيار، ص294)

معلومه شوه چې د الله پاک په دربار کښې د نيک اعمالو سره سره نۀ يواځې د نيکانو خلقو بلکې د هغوئې سره د نسبت لرونکو څيزونو وسيله هم پيش کيدے شي- د دې سره سره دا هم معلومه شوه چې د الله پاک د نيکانو بندګانو سره چې د کوم څيز نسبت پيدا شي هغه هم مُتَبَرَّک شي او بعضې وخت د هغې ظهور هم کيږي-

## د ګناه نه د بچ کيدو وسيله

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په غار کښې قيد دويم کَس د الله پاک په دربار کښې د خپلې يوې ګناه نه د بچ کيدو په وسيله دُعا کړې وه او هغه ګناه هم داسې وه چې په بدکارۍ باندې د طاقت لرلو باوجود د الله پاک د ويرې نه منع کيدل کوم چې د نفس د پاره ډير ګران دي- په دې داسې ځان پوهه کړئ چې يو کَس فِلم ګوري او فِلم داسې ځائے ته رسيدلے وي چې د نور کتو

تَجَسُّس يــې زيات شوے وي خو پۀ دې کښې يــې ناخاپه پۀ زړۀ کښې د اللّٰه پاک نه ويره پيدا شي او د هغۀ پۀ ذِهن کښې دا خبره راشي چې ما د دعوتِ اِسلامي پۀ هفته واره سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې دا روايت اوريدلے وو چې ” څوک خپلې سترګې پۀ حرامو ډکې کړي د قيامت پۀ ورځ به د هغۀ سترګې د وور نه ډکولے شي-“ (مکاشفة القلوب، ص10) نو هغه د اللّٰه پاک نه ويريږي او فوراً توبه کړي او هم هغه وخت فِلم کتل پريږدل نو د هغۀ دا عمل هم يوه نيکي ده او هغه د خپل دې عمل په وسيله د اللّٰه پاک پۀ دربار کښې دُعا هم کولے شي-

پۀ دې باندې نور پۀ دې مثال سره هم ځان پوهه کولے شئ چې يو کَس پۀ لار روان وو او د سرو زرو لاکټ يــې ومونډلو او هغه يــې راواخستو، بيا د هغۀ نيت خراب شو او هغۀ دا خپل ذِهن جوړ کړو چې نن بغير د غوښتو نه دولت لاس ته راغلے دے دا به خرڅ کړم او د دې پيسې به پۀ خپل ذاتي اِستعمال کښې راولم خو يو دم د هغۀ سره اِحساس پيدا شو چې دا لاکټ زما د پاره حرام دے لهٰذا ما له دا د دې مالِک له رَسَوَل پکار دي نو د اللّٰه پاک د ويرې پۀ وجه هغه هغه د سرو زرو لاکټ د هغۀ مالک له ورکړو نو هغۀ ته به هم د دې عمل ثواب ميلاؤيږي او هغه د خپل دې عمل د وسيلې پۀ پيش کولو سره د اللّٰه پاک پۀ دربار کښې دُعا کولے شي-

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! بعضې وخت په ګناه باندې پښیمانتیا هُغه کار کوي کوم چې نیکي نشي کولے په دې معني کښې چې اِنسان په نیکۍ کولو سره دومره ثواب نشي ګټلے څومره چې په ګناه باندې د پښیمانتیا په وجه مومي- په دې باره کښې یوه اِیمان تازه کوونکې واقعه واورئ:

## دوه جنّتونه یــې نصیب شول

حضرت علامه جلالُ الدِّین سُیُوطي شافِعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نقل فرمائي چې د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په دورِ خلافت کښې یو نیک ځوان وو کوم چې به خپل زیات وخت په جومات کښې تیرولو، د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د هغوئي د عبادت په وجه هغه ډیر خوښ وو، د ماسخوتن نـمونځ نه پس به هُغه ځوان د خپل پلار د خدمت د پاره کور ته تللو- د جومات او د کور ترمینځه یــې یوه زنانه اوسیدله کومه چې په دې ځوان باندې عاشقه وه، هغې به روزانه هغوئي د ځان طرفته رابللو خو هغوئي به د هغې طرف ته څۀ توجه نۀ کوله- اخر! یوه ورځ شیطان په هُغه ځوان باندې غالِب شو او هغه یــې ګناه ته تیار کړو، کله چې هُغه ځوان د هُغې زنانه په دعوت باندې د ګناه په اِراده د هغې طرف ته روان شو او د هغې د کور دروازې ته ورسیدو نو ناڅاپه په هغهٔ باندې د اللّٰه

پاک ويره غالبه شوه او د هغوئي په ژبه باندې بے واره دا آيت مبارک جاري شو:

اِنَّ الَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا اِذَا مَسَّهُمۡ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيۡطٰنِ تَذَكَّرُوۡا فَاِذَا هُمۡ مُّبۡصِرُوۡنَ ﴿۲۰۱﴾ (پاره:9، سورةالاعراف:201)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه پرهيزګارو ته چې کله د شيطان له طرفه څۀ خيال ورشي نو هغوئي (د الله حُکم) يادوي بيا په هُم هٰغه ساعت د هغوئي سترګې وغړيږي-

هٰغه ځوان بے هوشه شو او راپريوتو، هٰغې زنانه خپله وينزه راوبلله او دواړو په شريکه ځوان راښکلو او د هغۀ د کور دروازې ته يې يوړلو او هلته يې وغورځولو- هلته يـې پلار خيال اوکړو چې اوسه پورې زما ځوي کور ته ولې رانغلو؟ کله چې هغه د لټونو د پاره راوتو نو هغه خپل ځوي بے هوشه ومونډلو، هغه د ځينې خلقو په مرسته خپل ځوي اوچت کړو او کور ته يې يوړلو، کله چې يـې ځوي په هوش کښې راغلو نو پلار ترينه پوښتنه اوکړه: ځويه څۀ خبره ده؟ ځوي يـې ټوله واقعه بيان کړه- پلار يـې د ځوي نه پوښتنه اوکړه: تا ته کوم يو آيت درياد شوے وو؟ کله چې هغه بيا هٰغه آيت خپل والد صاحب ته واورولو نو بيا په هغه باندې د الله پاک ويره غالبه شوه او هغه بے هوشه شو او په زمکه باندې راپريوتو، هغه په دې پښيمانه شو چې هغه د داسې

ګنده کار طرف ته څنګه وړاندې قدم کيښودو؟ کله چې هغه وخوزولے شو نو د هغۀ رُوح د تن نه جُدا شوے وو او وفات شوے وو، هغۀ له غسل ورکړے شو او هم د شپې شپې د کفن دفن انتظام اوکړے شو- سحر چې کله حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خبر شو نو هغوئي د هغۀ د پلار خوا له د تعزيت د پاره تشريف يوړلو او وه يــې فرمائيل: مونږ.مو د شپې ولې خبر نۀ کړو؟ عرض يــې اوکړو: د شپې مو تاسو له تکليف درکول مناسب وه نۀ ګڼل- وه يــې فرمائيل: ما د هغۀ د قبر خوا له بوځئ، کله چې سَيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د يو څو کسانو سره د هغۀ د قبر خوا له لاړو او د سورۀ رحمان د دې آيت مبارک تلاوت يــې اوکړو: ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِۚ۝۴۶ ﴾ (پ27، سورۀالرحمٰن:46) [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او څوک چې د خپل رَب پۀ دربار کښې د ودريدلو نه ويريږي د هغۀ د پاره دوه جَنَّتونه دي-

هٰغه ځوان د قبر نه ووئيل: اے عمره! بے شکه زما رَبّ ما ته دوه جنَّتونه راعطا کړي دي- (شرح الصدور، ص213ماخوذاً)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** تاسو وکتل چې دې ځوان ته د ګناه نه د بچ کيدو څومره لوئي اِنعام ميلاؤ شو چې اللّٰه پاک هغۀ ته دوه جنتونه عطا کړل-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** تاسو چې د بيان په شروع کښې کومه واقعه واوريدله په هغې کښې په غار کښې د ګير شوي دريم ګس دا نيک عمل بيان کړے شو چې هغهٔ د خپل مال نه د مزدور مزدوري بيله کړه او په هغې يـې کاروبار شروع کړو او بيا د مزدور د طرف نه د مزدورۍ په غوښتو هغهٔ د مزدورۍ سره سره د هغې نه تر لاسه شوې ټوله ګټه هم مزدور له ورکړه حالانکې داسې کول په هغهٔ باندې په شرعي توګه واجِب نهٔ وو-

وګورئ چې د هٔغه مزدور د مزدورۍ نه حاصله شوې ګټه کمه نهٔ وه بلکې که د اوسني وخت په حساب سره که د دې د ماليت اندازه ولګوے شي نو کيدے شي چې لکونه کروړونه روپۍ ترې جوړې شي خو هغهٔ ټول مال مزدور له ورکړو او هغه يـې حيران کړو- په اوسني وخت کښې د ديانت دارۍ داسې مثال ميلاؤيدل ډير ګران دي- نن که څوک مزدور د خپلې مزدورۍ د اخستو نه بغير لاړ شي نو زمونږ نفس به مونږ له هم دا مشوره راکوي چې وګوره! هغهٔ خپله مزدوري په خپله پريښودې ده او تلے دے، په دې کښې ستا څهٔ قصور دے؟ بيا به زيات نه زيات مونږ په هغهٔ باندې دا احسان اوکړو چې څومره د هغهٔ مزدوري جوړيږي په که اويې غواړي نو هم هٔغه همره به ورله ورکړو- اګر که دا هم کافي دي خو په غار کښې د قيد هٔغه ګس سخاوت او د

قربانۍ د جذبې نه زار شم! ورومبے هغۀ د مزدور پيسې پۀ کاروبار کښې ولګولې او بيا يـې هغه زيات کړو او بيا يـې ټول مال هغۀ ته حواله کړو-

آه! د مال معامله ډيره ګرانه ده- نن سبا مالداره خلق د زکوٰة ورکولو پۀ معامله کښې ډير د لم ليټ نه کار اخلي- بعضې وخت داسې هم کيږي چې د زکوٰة حقداره د مالداره ښه ډير منتونه او خوشامدې کوي خو هغه هُغه خوار بيا بيا راغواړي او ديـکـې ورکوي او بيا لږ شان مال ورکوي چې د هغۀ ګزاره پرې نۀ کيږي-

بهر حال پۀ غار کښې د قيد دريم کَس مزدور له سره د فائدې د هغۀ مزدورۍ ورکولو والا عمل دومره عظيم او زبردست وو چې کله هغۀ د خپل هُغه نيک عمل وسيله پيش کړه او د الله پاک نه يـې سوال اوکړو نو د دې پۀ برکت ګټ د غار د خُلې نه بالکل لرې شو او هُغه درې واړه مسافر پۀ اسانۍ سره د غار نه بهر راوتل-

## د مُحالِ عادي (يعنې د ناممکن) دُعا نۀ ده کول پکار

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! کله چې څۀ پريشاني راشي نو که وړوکې وي او که لويه، د هغې د حل د پاره که څۀ تدبير ممـکـن وي او که ممکن نۀ ، د الله پاک پۀ دربار کښې د هغې د حل کيدو دُعا ضرور کول پکار دي- آؤ!

چې کوم څیزونه مُحال عادي وي د هغې دُعا نشي کولے مثلاً د دَستِ غیب دُعا نشي کولے ځکه چې دا مُحالِ عادي دے او د مُحال عادي دُعا کول ناجائزه او حرامه ده- دَستِ غیب (یعنې بغیر د څۀ ظاهري ذریعې نه حاصلیدونکي پیسو) د پاره دُعا کول لکه اے الله! کله چې زۀ د مُصَلي نه لاس لاندې کړم نو پۀ نوټونو مې موټے ډَک شي وغیره وغیره- البته داسې دُعا کولے شي چې اے الله! زما پۀ رزق کښې برکت واچوې یا ما ته د روزۍ ذریعې راعطا کړې-

یاد ساتئ! کوم څیزونه چې مُحال عادي نۀ دي د هغې دُعا کولے شیۍ- مثلاً اے الله! چې زما تنګدستي لرې کړې ، ما ته ښه او اسانه نوکري راکړې ، چې زما تنخوا ښه وي، زما خپل کاروبار شي، زما خپل کور نصیب شي، زما مرضونه لرې شي، زما د بچي مرض لرې شي وغیره وغیره- د بده مرغه زمونږ د دُعا طرف ته رغبت کم او د تدبیر طرف ته زیات وي- مونږ د ظاهري اسبابو طرف ته ډیرې منډې وهو حالانکې که مونږ د اسبابو خالِق ته نظر اوکړو نو اسباب به پۀ منډه زمونږ خوا له راځي-

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د څۀ مشکل د حل د پاره د الله پاک نیکانو اِنسانانو ته پۀ فریاد کولو کښې هم څه باک نشته او خوږ آقا و مولا ،

مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو د نیکانو بندګانو سردار دے ځکه نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته پۀ فرياد کولو کښې هم څه باک نشته- اللّٰه پاک خپل خوږ حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ډير طاقتونه عطا کړي دي او هغوئي زمونږ فرياد اوريدےشي او مسئلې مو حل کولے شي- وګورئ! کله چې مونږ ډاکټر صاحب ته خواست کوو چې ډاکټر صيب! زمونږ بچے ټيک کړئ نو د اللّٰه پاک خوږ حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم چې د طبيبانو طبيب دے که د هغوئي پۀ دربار کښې څوک اُمتي پۀ ژړا فرياد اوکړي چې " يَا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو زمونږ بچي ته د کرم نظر اوکړئ او دے ټيک کړئ " نو پۀ دې کښې څۀ باک دے؟ دغه شان " کله چې زمونږ څۀ ځيز غلا شي نو مونږ د سائنسي کنکشن پۀ ذريعه يعني پۀ فون کولو سره د مددګار پوليس سره رابطه کوو" نو " که مونږ د روحاني کنکشن پۀ ذريعه د بے اسرې خلقو مددګار، محبوبِ پروردګار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته فرياد اوکړو " نو پۀ دې کښې څۀ باک دے؟


واللہ! وہ سُن لیں گے فریاد کو پہنچیں گے
اِتنا بھی تو ہو کوئی جو آہ! کرے دل سے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د عِلمِ دِين د زده کولو ښودلو او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ ښکلو ښکلو سُنَّتو باندې د عمل

جذبې موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي په قافلو کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ- هر يو اِسلامي ورور دې په ژوند کښې په يو ځائے د 12 مياشتو، په هرو 12 مياشتو کښې يوه مياشت او په هره مياشت کښې کم از کم 3 ورځې په قافله کښې سفر کوي- که ممکن وي نو قافله کورس اوکړئ چې د قافلو په تيارولو کښې ډېرمشکل راپيښ نشي او په دې ټولو دِيني کارونو باندې د استقامت موندلو د پاره په " نيک اعمال " باندې عمل کوئ، روزانه نيک اعمال رساله ډکوئ او د هرې مياشتې په وړومبي تاريخ يې د خپل ځائے د ذمه دار سره د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله





فيضانِ مدينه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net